درسي کتاب

# د ماشومانو سبکلا

## زينة الاطفال



ایمان

ځان پېژندل

د الله حق پېژندل

اسلام پېژندل

توحید پېژندل

شرک پېژندل

ملايکو پېژندل

پیغمبرانو پېژندل

قيامت پېژندل

اسلامي اداب

ترغیبي کیسې

څلويښت حديثونه

او داسې نور.......

لیکوال:

مولوي عبدالباقي علميار

بيا کتنه

حامد مشوانی





# زينة الاطفال
# بالايمان والاعمال

راځئ چې خپل روح په ايمان او جسم په صالحو اعمالو ښايسته کړو. (عبدالباقي علميار)


مؤلف

(مولوي عبدالباقي علميار)

برېښنايي کوونکی : عزت الله سلطانزي
Fb: Ezatullah.sultanzai
0706912702

روغانيوال
خپرندويه ټولنه

## د کتاب ځانګړنې:


**د کتاب نوم:** زينة الاطفال (د ماشومانو ښکلا

**راټولوونکی:** مولوي عبدالباقي علميار

**کمپوز:** حامد مشوانی

**ډيزاين:** منصور فيصل

**خپرندوی:** روغانيوال خپرندويه ټولنه-جلال آباد

**چاپشمېر:** ۱۱۰۰ ټوکه

**چاپ وار:** لومړی

**کال:** ۱۳۹۶ل.ل / 2017م



**د چاپ حقوق له خپرندوی سره خوندي دي.**



**د ترلاسه کولو پتې:**

روغانيوال خپرندويه ټولنه: اسحاقزي مارکيټ. لانديني پوړ، جلال آباد ښار، افغانستان.

اړيکشمېرې: 0794004029 - 0787830302 - 0772994040

حبيب الله کتاب پلورنځی لغمان چارباغ

جديد اسلامي کتابخانه خوست

روحاني بابا کتابخانه پکتيا ګرديز

# بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله وكفى والصلوة و السلام على عباده الذين اصطفى اما بعد ((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنْفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا)) (ژباړه: اى ايماندارو! بچ کړئ ځانونه خپل او اهل خپل د اور څخه)

يقيناً د اولاد تربيت د اسلام له نظره يو ډير مهم امر دى لکه نبى صلى الله عليه وسلم فرمايي: (پلار اولاد ته له ادب څخه زياته توښه نه ده ورکړې.)

اولاد د الله رب العزت يو ډېر لوى نعمت او مهم امانت دى، ځکه د هغه د تربيت او حفاظت لپاره په اسلامي لارښوونو کې پوره توجه شوې ده. صالح اولاد د مور او پلار لپاره صدقه جاريه ده. لکه حديث شريف کې راځي :(عن أبى هريرة رض أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: إِذَا مَاتَ الْإِنْسَانُ انْقَطَعَ عَنْهُ عَمَلُهُ إِلَّا مِنْ ثَلَاثَةٍ: إِلَّا مِنْ صَدَقَةٍ جَارِيَةٍ، أَوْ عِلْمٍ يُنْتَفَعُ بِهِ، أَوْ وَلَدٍ صَالِحٍ يَدْعُو لَهُ)ه: صحيح مسلم، مشكوة كتاب العلم

(ژباړه: له ابوهريره رضى الله عنه څخه روايت دى چې نبى صلى الله عليه وسلم فرمايي: کله چې يو انسان مړ شي د هغه نه د هغه ټول عملونه قطع شي مگر درې عملونه نه قطع کيږي: صدقه جاريه، او هغه علم چې په هغې سره

نفع ورکړی شوې وې، او نیک اولاد چې د هغه لپاره دعا کوي.) پورتني حدیث څخه معلومېږي چې د انسان ځینې اعمال د مرگ څخه وروسته هم جاري وي او انسان ته گټه رسوي لکه صدقه جاریه، علم او صالح اعمال چې نیک عمل کوي او مور او پلار لپاره دعاوې کوي.

❖ صالح اولاد په جنت کې د مور او پلار د درجاتو د رفعت سبب گرځي لکه ابی هریرة څخه روایت دی. (" إِنَّ الرَّجُلَ لَتُرْفَعُ دَرَجَتُهُ فِي الْجَنَّةِ فَيَقُولُ: أَنَّى (لی) هَذَا؟ فَيُقَالُ: بِاسْتِغْفَارِ وَلَدِكَ لَكَ ") سنن ابن ماجه، ابوداوود باب برالوالدين

نوټ: د (لی) لفظ زیاتوالی مسند احمد کې راغلی.

(ژباړه: بېشکه خامخا د یو سړي درجه به جنت کې پورته کېږي. دی پوښتنه کوي چې زما د دې درجاتو اوچتوالي سبب څه دی؟ نو جواب ورکول کېږي چې ستا د مرگ نه وروسته ستا د اولاد د استغفار په وجه کوم یې چې ستا لپاره کړی دی.)

❖ مور او پلار د صالح اولاد په روزنه کې لوی لاس لري. لکه نبی صلی الله علیه وسلم فرمایي: (مَا مِنْ مَوْلُودٍ إِلَّا يُولَدُ عَلَى الفِطْرَةِ، فَأَبَوَاهُ يُهَوِّدَانِهِ أَوْ يُنَصِّرَانِهِ، أَوْ يُمَجِّسَانِهِ...) صحیح البخاری کتاب الجنائز

ژباړه: نه پیدا کیږي یو ماشوم مگر د ایمان په فطرت سره، بیا یې مور او پلار (که یهودي وي) یهودي کوي یې، یا (نصراني وي) نصراني کوي یې، یا (مجوسي وي) مجوسي کوي یې).

پورتنی حدیث په دې خبره دلالت کوي چې مور او پلار د اولاد په روزنه کې پوره واک او اختیار لري نو راځئ چې د خپل دغه زرین اختیار څخه په استفادې سره خپل اولاد ته واقعي اسلامي روزنه ورکړو چې خپل ځان، مور، پلار او ټول امت لپاره د خیر سبب وگرځي. په اخر کې د الله تعالی څخه دا دعا غواړم چې نوموړې رساله زمونږ د اسلامي ټولنې د اولادونو او والدینو لپاره نافع او زمونږ د اخرت د فلاح ذریعه وگرځوي. آمین

**په درنښت**

**(مولوي عبدالباقي علمیار)**

**یادانست**

**د لوستونکو نه غواړو چې کومه غلطي په کتاب کې ووینې خپرندویه ټولنه دې خبره کړي**

**مننه**

# فهرست

۱.ایمان
۲.اخلاق
۳.اعمال
۴.ترغیبي مختصري کیسي
۵.څلوېښت حدیثونه

# ایمان

## ځان پېژندل

۱.الله یو دی. ۲.زه د الله بنده یم. ۳.زه الله پیدا کړی یم. ۴.زه مسلمان یم. ۵. زموږ دین اسلام دی. ٦.اسلام حق دین دی. ۷.موږ په اسلام ویاړو. ۸.الله موږ مسلمانان نومولي یو. ۹.ټول مسلمانان سره ورونه دي. ۱۰. اسلام د سلا متی او وروروَلی دین دی.

## الله(جل جلا له) پېژندل

الله یو دی، هیڅ شریک او ساری نه لري

۱.الله زموږ پیدا کوونکی دی. ۲. ځمکه الله پیدا کړې ده. ۳.اسمان الله پیدا کړی دی. ۴.لمر او سپوږمی الله پیدا کړي دي. ۵.غرونه، سیندونه الله پیدا کړي دي. ٦.بوټي، ګلان، ونې، باغونه الله پیدا کړي دي. ۷.زموږ مور، پلار، خویندې، ورونه او ټول انسانان الله پیدا کړي دي. ۸.الله د ټولو مخلوقاتو خالق، مالک او رازق دی. ۹.ټول مخلوق د الله په واک کې دی. ۱۰. الله د ټولو رب دی.

## د الله(جل جلا له) حق پېژندل

۱.الله موجود دی. ۲.الله ډېر لوی دی. ۳.الله يـواځې ذات دی. ۴. الله شريک نه لري. ۵.يواځې الله د عبـادت وړ دی. ٦.الله د ټولو کايناتو حق معبود دی. ۷.د الله توحيد منل په هر چا فرض دي.

## اسلام پېژندل

۱.اسلام الله ته غاړه ايښودلو او تابعداري تـه وايـي. ۲.اسلام پنځه بناوې لري: ۱.کلمه توحيـد ۲.لمـونځ ۳.زکـات ۴.روژه ۵.حج

کلمه توحيد لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللهِ

د کلمې مانا: نشته لايق د عبادت مگر الله دی، محمـد صـلی الله عليه وسلم د الله ج رسول (استازی) دی.

کلمه شهادت: أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْـدُهُ وَرَسُولُهُ "

د شهادت د کلمې مانا: گواهي کوم په دې چې نشته لايق د عبادت مگر (يوازې) الله او گواهي کوم په دې چې محمـد صـلی الله عليـه وسـلم د هغـه (الله) بنـده او د هغـه رسـول (لېږلی شوی) دی.

# ايمان پېژندل

ايمان د ژبې اقرار، د زړه تصديق او د اندامونو سره نيک عمل کولو ته وايي.

**د ايمان ارکان:** ۱. په الله ايمان لرل ۲.په ملائکو ايمان لرل ۳. په اسماني کتابونو ايمان لرل ۴. په پيغبرانو ايمان لرل ۵. په ورځ د اخرت (قيامت) ايمان لرل ٦.په اندازه (تقدير) د خير او شر ايمان لرل

**ايمان مفصل:** آمَنْتُ بِاللّٰهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَالْقَدَرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ مِنَ اللّٰهِ تَعَالَىٰ والبَعْثِ بَعْدَالْمَوْتِ

ژباړه: ايمان لرم په الله او د هغه په ملائکو، د هغه په کتابونو، د هغه په رسولانو، په ورځ د اخرت، د الله تعالى له طرفه د خير او شر په تقدير (د هغه د حکمت له مخې) تاکل شوى دى. او (باور لرم په دوباره) ژوندي کېدو پس له مرګه.

**ايمان مجمل:** آمَنْتُ بِالله كَمَا هُوَ بِأَسْمَائِه وَ صِفَاتِه وَ قَبِلْتُ جَمِيْعَ اَحْكَامِه اَقْرَارٌ بِاللِّسَانِ وَ تَصْدِيقٌ بِالْقَلْب.

ژباړه: ايمان لرم په الله څنګه چې هغه په خپلو نومونو سره دى او قبول کړي مې دي ټول احکام د هغه په ژبه او په زړه يې تصديق کوم.

## د الله تعالی په هکله ځینې عقیدې پېژندل

# الف: توحیدپېژندل

توحید په درې ډوله دی. ۱.توحید ربوبیت ۲.توحید الوهیت ۳.توحید اسماء او صفات

**توحید ربوبیت:** الله سبحانه و تعالی په خپلو کارونو کې یوازې ګڼل لکه ۱.الله د هر څیز یوازې خالق او پیدا کونکی دی. ۲.الله د هر څیز یوازې پالونکی دی. ۳.الله په ټولو شیانو یوازې واکمن دی. ۴.الله سره په هیڅ یو کار کې هیڅوک شریک نه دی.

**توحید الوهیت:** الله یوازې د ټولو عباداتو لایق او حقدار ګڼل لکه: ۱.لمونځ، ذبح، جهاد او داسې نور... ۲.ټول عبادات صرف الله لپاره خاص کول ضروري دي. ۳.الله سره په هیڅ یو عبادت کې څوک شریکول جائز نه دي.

**توحید اسماء او صفات:** د الله سبحانه وتعالی هغه نومونه او صفتونه کوم چې قرانکریم او صحیحو احادیثو کې راغلي وي. ۱.ایمان راوړل ۲.الله ته د هغه شان لایق ثابتول ۳.د افراط او تفریط نه ځان ساتل ۴.د صحابه وو په فهم اعتماد کول ۵. د هغه لپاره امثال نه راوړل

## ب: شرک پېژندل

شرک په درې ډوله دی. ۱.شرک اکبر ۲.شرک اصغر ۳.شرک خفی

**شرک اکبر**: ۱.دې ته وايي چې د هغې کوونکی د اسلام له دايرې ووځي. ۲. شرک اکبر عمل بربادوي. ۳.شرک اکبر د هميشني جهنم سبب ګرځي ۴.د شرک اکبر د کوونکي هيڅ عمل نه قبلېږي. ۵.شرک اکبر د مرګ نه وروسته نه معاف کيږي. ٦.شرک اکبر کوونکي باندې جنت حرام دی.

د شرک اکبر ځينې مثالونه: ۱.د الله څخه پرته بل چا ته عبادت کول ۲.مړو او بتانو څخه مدد غوښتل ۳.غير الله لپاره منښته او څاروي حلالول وغيره...

**شرک اصغر**: ۱.دې ته وايي چې د هغې کونکی د اسلام له دايرې څخه نه وځي. ۲.په حکم د شرک اکبر کې داخل نه دی. ۳.په قران او حديث کې ورته شرک ويل شوی دی. ۴.د توحيد د کمال خلاف دی.

د شرک اصغر ځينې مثالونه: ۱.لکه ريا او ځان ښودنه ۲.د الله نه پرته بل څه باندې قسم کول ۳.د الله په مشيئت کې بل څوک شريکول وغيره...

**شرک خفی**: ۱.دا هم د شرک اصغر يو ډول دی. ۲.په حکم د شرک اصغر کې داخل دی.

د شرک خفی مثال: لکه د لمونځ گزار ښايسته کول د لمونځ د بل چا د نظر او کتلو له کبله يانې ښايسته لمونځ له دې وجې کوي چې خلک ورته وگوري، د الله لپاره يې خشوع او عاجزي مطلب نه وي.

## احسان پېژندل

۱.احسان: اخلاص، اتقان او احکام ته وايي يعنې په مينه يو شی ښه جوړول چې په هغه کې هيڅ عيب او خلل پاتې نه شي. ۲.په زړه سه د حق داسې مشاهده چې په سترگو يې ويني. ۳.الله تعالی ته د يو عمل تر سره کول په نهايت توجه،خشوع او عاجزی سره.

## د ملايکو پېژندل

۱.ملايکې د الله تعالی هغه مخلوق دی چې له نور څخه يې پيدا کړي دي. ۲. نه نارينه دي نه ښځينه ۳. په مختلفو اشکالو ځان بدلولی شي. ۴.زموږ له نظرونو څخه پناه دي.

۵.الله پاک په مختلفو کارونو مقررې کړي دي. ٦.هيڅکله د الله نافرماني او ګناه نه کوي. ۷.چې څه حکم ورته وشي بس هماغه پوره کوي. ۸.د ملايکو شمار له الله پرته بل هيچا ته معلوم نه دی. ۹.مشهورې او مقربې ملايکې څلور دي:
۱.جبرائيل ۲.ميکائيل ۳.اسرافيل ۴.عزرائيل (ملک الموت)
۱۰. د نورو مخلوقاتو په شان ملائکې هم په غيبو نه پوهېږي.

## اسماني کتابونه پېژندل

۱.اسماني کتابونه (۱۰۴) دي. ۲.څلور لوی او مشهور کتابونه دي چې عبارت له تورات، زبور، انجيل او قران څخه دي. ۳.تورات په موسی عليه السلام نازل شوی دی، انجيل په عيسی عليه السلام نازل شوی دی، زبور په داود عليه السلام نازل شوی دی، قران په محمد صلی الله عليه وسلم نازل شوی دی. ۴.صحيفې هم واړه اسماني کتابونه دي چې په ځينو پيغمبرانو نازلې شوي دي.

## ځينې حق او ثابت شيان پېژندل

۱.الله حق دی. ۲.پيغمبران حق دي. ۳.جنت حق دی. ۴.دوزخ حق دی. ۵.د قبر عذاب حق دی. ٦.پل صراط حق دی. ۷.قيامت حق دی. ۸.جنتيانو ته د الله ديدار حق دی.

## پيغمبران پېژندل

۱.پيغمبران د الله تعالی رښتيني بنده گان دي. ۲.له هر قسم گناه څخه پاک دي. ۳.د الله د بنده گانو د هدايت لپاره راليږل شوي دي. ۴.لومړنی پيغمبر ادم عليه السلام دی. ۵.وروستنی پيغمبر محمد صلی الله عليه وسلم دی. ٦.د محمد صلی الله عليه وسلم څخه وروسته بل پيغمبر نه راځي. ۷.پيغمبران په ټولو انسانانو کې غوره بنده گان دي. ۸. محمد صلی الله عليه وسلم په ټولو پيغمبرانو کې غوره پيغمبر دی.

## قيامت پېژندل

۱.قيامت راتلل حق دي. ۲.قيامت د اسرافيل عليه السلام د شپېلۍ غږولو سره شروع کيږي. ۳.د قيامت لپاره دوه شپيلۍ غږول کيږي. ۴.د قيامت په اوله شپيلۍ هر څه تباه کيږي. ۵.لکه اسمان غورځيږي، غرونه الوځي، سمندرونه اور اخلي، لمر، سپوږمۍ، ستوري هر څه ختميږي لنډه دا چې ټول مخلوق پناه کيږي. ٦.لومړنۍ شپيلۍ څخه څلويښت کاله وروسته دوهمه شپيلۍ غږول کيږي. ۷.دې

شپیلۍ سره مړي ژوندي کېږي. ۸.میدان حشر ته راټولېږي. ۹.د الله سبحانه وتعالی د حساب انتظار کوي.
۱۰. د قیامت ورځ پنځوس زره کاله ده. ۱۱. د قیامت ورځ ته د اخرت ورځ هم وايي.

## تقدير پېژندل

تقدير د ټولو موجوداتو د هر اړخيز حالاتو واقع کيدو څخه عبارت دی.

۱.تقدیر لوح محفوظ کې لیکل شوي علم ته وايي.

۲.تقدیر کې هر ښه او بد لیکل شوي دي.

۳.هیڅ کیدونکی کار له تقدیر څخه بهر نه دی.

۴. د تقدیر منکر کافر دی.

## له خوبه د پاڅېدلو اداب پېژندل

۱.سهار وختي پاڅېدو کې خير او برکت وي. ۲.د لمانځه په نيت سهار وختي پاڅيدل. ۳.له خوبه د پاڅيدو په وخت کې دا دعاء ولولئ. «الحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَحْيَانَا بَعْدَ مَا أَمَاتَنَا وَإِلَيْهِ النُّشُورُ» صحيح البخاري ۴.مسواک استعمال کړئ ۵.بيت الخلاء ته د داخليدو په وخت کې چپه پښه مخکې کړئ او دا دعاء ولولئ. «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الخُبُثِ وَالخَبَائِثِ» صحيح البخاري ٦.د راوتلو په وخت کې ښی

ښه وړاندې کړئ او دا دعاء ولولئ: «غُفرَانَکَ» ۷. د استنجاء لپاره چپ لاس استعمال کړئ. ۸.د اودس ماتې یا استنجاء په وخت کې قبلې ته مخ یا شا مه ګرځوئ. ۸.د اودس ماتې یا استنجاء په وخت کې چپ لاس استعمال کړئ. ۹.اودس ماتې لپاره داسې ځای وګورئ چې تاسو ته داړې نه کیږي. ۱۰.په غسل خانه کې متیازې مه کوئ. ۱۱.د چا په دېره (سیوري) یا عامه لاره کې اودس ماتې مه کوئ. ۱۲.د خزنده او حشراتو په سوریو کې متیازې مه کوئ. ۱۳.مقدس شیان بیت الخلاء ته مه وړئ. ۱۴.قضاء حاجت لپاره د خلکو له نظره پناه ځای ته ولاړ شئ. ۱۵.همیشه په اوداسه کې اوسیدل د مومن د شان غوښتنه ده.

## د مور پلار اداب پېژندل

۱.له الله سبحانه وتعالی څخه وروسته په انسان باندې دوهم حق د مور او پلار دی.

۲.دالله په نزد غوره اعمال: ۱.په خپل وخت لمونځ کول ۲.مور او پلار سره ښه سلوک کول ۳.د الله په لاره کې جهاد کول دي.

۳.د مور او پلار نافرماني لویه ګناه ده.

۴.مور او پلار كه كافران هم وي، بيا هم له هغوی سره صله رحمي پكار ده.

۵.د مور او پلار سره جائز تعاون او ښه سلوك د دنيا او اخرت برياليتوب دی.

٦.د الله خوښي او خفگان د مور او پلار په خوښي او خفگان كې نغښتی دی.

۷.مور او پلار سره هر وخت عاجزي او خوش خويي پكار ده.

۸.د مور او پلار د خپلوانو او دوستانو عزت هم د مور او پلار عزت دی.

۹.د مور او پلار خدمت د هجرت او جهاد هومره ثواب لري.

۱۰.مور او پلار د اولاد لپاره هم جنت دی هم دوزخ.

۱۱.د مور او پلار مخ ته په مينه ليدل د قبول شوي حج هومره ثواب لري.

۱۲. د مور او پلار د احسان په مقابل كې هميشه هغوی لپاره دعاء غواړئ.

## د سلام اداب پېژندل

- په هر مسلمان سلام كوئ
- سلام ويلو كې سبقت وكړئ.
- كور ته د ننوتو په وخت كې سلام وكړئ.
- مجلس ته د ننوتو په وخت سلام وكړئ.
- سپور دې په پياده او ناستو خلكو سلام وكړي.
- روان خلک دې په ناستو او ولاړو خلكو سلام وكړي.
- كافر باندې سلام: والسلام على من اتبع الهدى
- د كافر د سلام ځواب په وعليک سره وركړئ.
- د مسلمان د سلام په ځواب كې وعليكم السلام سره ورحمة الله وبركاته الفاظ زياتول هم سنت دي.
- سلام په السلام عليكم سره ووايئ د ورحمة الله وبركاته الفاظ زياتول هم ښه كار دی.

## د مسلمان حقوق پېژندل

۱.د مسلمان د سلام ځواب وركول. ۲.دعوت قبلول ۳.د ناروغتيا يې پوښتنه كول. ۴.د پرنجي كونكي الحمد لله په ځواب كې يرحمک الله ويل. ۵.قسم ښخه يې خلاصول.٦.د مظلوميت په وخت كې يې مدد كول. ۷.په

مړي باندې يې جنازه کول. ۸.د مشورې غوښتو په وخت کې خيرخواهي کول.

## د ناروغ د پوښتنې اداب پېژندل

۱.د ناروغ پوښتنه ثواب لري. ۲. مونږ بايد د ناروغ پوښتنه وکړو. ۳.د ناروغ پوښتنه کول په هر مسلمان ديني حق دی. ۴.ناروغ ته په دې دعا تسليت ورکړئ: «لاَ بَأْسَ، طَهُورٌ إِنْ شَاءَ اللَّهُ» صحيح البخاري ۵.ناروغ په ډير کيناستو مه تنګوئ. ٦.ناروغتيا له مومن څخه ګناهونه رژوي. ۷.مريض ته دعا کوئ. ۸.له مريض څخه دعا غواړئ، د هغه دعا قبلېږي. ۹.پوښتنه کونکي ته ملايکې هم دعا کوي.

## د ښايسته سلوک اداب پېژندل

۱.مسلمان غصه خوړونکی وي. ۲.مسلمان عفه کونکی وي. ۳.مسلمان احسان کونکی وي. ۴.څوک چې د خلکو احسان نه مني، د الله احسان نه مني. ۵.الله نرمي کونکی دی، نرمي خوښوي، په نرمۍ چې څه ورکوي، په سختۍ او تندخويۍ يې نه ورکوي. ٦.نبی عليه الصلاة والسلام عايشې ته وويل: ای عايشې نرمي کوه، کوم شي څخه چې نرمي ووځي، هغه معيوب شي. ۷.خلکو سره د معافي او ګذشت څخه کار واخله. ۸.د غوسې په وخت کې (أعوذ بالله من الشيطن

الرجيم) ووايئ. ۹.نبی علیه الصلاة والسلام هیڅکله کوم غلام یا کومه زنانه نه ده وهلې. ۱۰.د بنده په تله کې تر هر څه دروند شی اخلاق دي.

## د مجلس اداب پېژندل

۱.مجلس ته د حاضریدو په وخت کې سلام اچوئ. ۲.د دوه کسانو مجلس کې مداخله مه کوئ. ۳.د نیکانو خلکو مجلسونو ته ځئ. ۴.مجلس کې خالي ځای کې کېنئ، بل ته تکلیف مه ورکوئ. ۵.د مجلس رازونه مه افشاء کوئ. ٦.د مجلس په منځ کې مه کېنئ. ۷.مجلس د الله د ذکر څخه خالي مه پرېږدئ. ۸.د مجلس په پای کې دا دعا ولولئ: (سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ، وَحْدَكَ لَا شَرِيكَ لَكَ، أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ) ۹. د مجلس څخه په سلام سره وځئ.

## د خبرو کولو اداب پېژندل

۱.په خبرو کې تل رښتیا وایئ. ۲.د ضرورت او تقاضا سره سم سنجیده خبرې کوئ. ۳.خبرې په نرمه لهجه، وریـن تندي، خوږ انداز او درمیانه اواز سره کوئ. ۴.په خبرو کې خپل تعریف او دبل مذمت مه کوئ. ۵.خبره په عدل او انصاف کوئ، د چا بې ځایه طرفداري مه کوئ. ٦.د ناپوهه

خلکوسره عبث مجلس مه کوئ. ۷.د خبرې هدف مختصر-او واضح بيان کړئ. ۸.مهمې خبرې د پوهنې په موخه دوه درې ځله تکرار کړئ. ۹.هر چا سره د هغه د شان مطابق خبرې وکړئ.

## په لاره کې د تللو اداب

۱.په لاره کې په ښي لاس ځئ. ۲.د نظرونو حفاظت وکړئ. ۳.د سلام اهتمام کوئ. ۴.له لارې څخه ضرري څيزونه لرې کوئ ۵.په ناز او تکبر سره مه ځئ. ٦.په وقار او عاجزی سره ځئ. ۷.د پښو د حفاظت لپاره پيزار اچوئ. ۸. خلکو سره د ضرورت مناسب تعاون کوئ.

## د سفر اداب پېژندل

۱.سفر ته د تلو او راتلو په وخت کې دوه رکعته لمونځ کوئ.

۲.له کوره د وتلو په وخت کې دا دعاء ولولئ. (بِسْمِ اللهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللهِ، لَا حَوْلَ وَلا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ).

۳.سفر کې درې ملګري يا له دې نه هم زيات ښه دي.

۴.سفر کې يو کس بايد امير مقرر شي.

۵. سفر کې د يو بل خدمت کوئ.

٦. سفر کې کم وخت لګول او بيرته راتلل پکار دي.

۷.سفر ته د ضرورت سامان له ځان سره واخلئ.
۸.کله چې سفر څخه بیرته کور تـه راشئ، دا دعـاء ولـولئ.
«أَوْبًا أَوْبًا، لِرَبِّنَا تَوْبًا، لَا يُغَادِرُ عَلَيْنَا حُوبًا»

## د بازار اداب پېژندل

۱.بـازار تــه یــوازې د ضرورت لپــاره ورځــئ. ۲.د نظرونــو حفاظت کوئ. ۳.امـر بـالمعروف لپـاره زمینـه برابـروئ. ۴.د سلام اهتمام کوئ. ۵.بازار ته د رسیدو سره دا دعا لولئ. (لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَـهُ الْمُلْـكُ وَلَـهُ الْحَمْـدُ يُحْيِـي وَيُمِيتُ وَهُوَ حَيٌّ لَا يَمُوتُ بِيَدِهِ الْخَـيْرُ وَهُـوَ عَـلَى كُـلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ)٦.خلک مـه دوکـه کـوئ. ۷.بـدل شی پـه اصلي مـه خرڅوئ. ۸.د خرڅولو په وخت کې د خپل مال عیب مـه پټوئ.

## د ډوډۍ خوړلو اداب

۱.ډوډۍ خوړلو لپاره لاسونه ومینځـئ. ۲.خـوراک بسم الله سره شروع کوئ. ۳.په ښي لاس خوراک کـوئ. ۴.د خپلـې مخې څخه خورئ. ۵. خواړه مه ضایع کوئ. ٦.خوراک تـه په سنت طریقه کېنـئ. ۷.تکیـه (ډډه) وهلـی خـوراک مـه کوئ. ۸.حـلال خـواړه وخـورئ. ۹.درمیانـه نـوړی اخلـئ. ۱۰.تږوخي یـا پرنجـي پـه وخـت خپـل مخ بـل خـوا اړوئ.

۱۱.که يو لوښي کې مختلف خوراکونه وي، له هر طرف يې خوړی شئ. ۱۲.تر مړيدو وروسته دا دعاء ولولئ. («الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَجَعَلَنَا مُسْلِمِينَ»).

## د پرنجي او (خوله وازي) اداب پېژندل

۱.د پرنجي په وخت کې الحمد لله ووايئ. ۲.د پرنجي کونکي (الحمد لله) په ځواب کې (يرحمک الله) ووايئ. ۳.پرنجي کوونکي ته بيا جواب کې (يهديکم الله ويصلح بالکم) ووايئ. ۴.د پرنجي په وخت کې اواز ښکته کړئ. ۵.پرنجي په وخت کې مخ چپ طرف ته واړوئ.

۱.د تناوب (خوله وازي) په وخت کې په خوله لاس کېږدئ، ځکه چې شيطان خولې ته ننوځي. ۲. د تناوب (خوله وازي) سره د (ها) اواز مه کوئ. ځکه چې دې سره شيطان خاندي.۳.پرنجی د الله له طرفه او تناوب د شيطان له طرفه وي.

## د جامو اغوستلو اداب پېژندل

۱.جامې اغوستل د انسان امتيازي عزت او شرافت دی. ۲.جامې د بدن ښايست او حفاظت دی. ۳.جامو سره عورت پټوئ. ۴.داسې جامې اغوستل چې عورت ورځخه ښکاري، حرام دی. ۵.جامې د ښي طرف نه اغوندئ. ٦.ساده او با

وقاره جامې اغوندئ. ٧.په جامو کې له شهرت او غرور څخه ځان وساتئ. ٨.په لباس کې له کافرانو سره مشابهت مه کوئ. ٩.نارينه دې پايڅې له ګيټو څخه اوچتې ساتي. ١٠.نارينه و ته سپين لباس بهتر او سور جائز نه دی. ١١.په هغه نارينه او زنانه و لعنت کړی شوی دی چې په لباس کې له يو بل سره مشابهت کوي. ١٣.د جامو اغوستلو په وخت کې دا دعا ولولئ. (اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي كَسَانِي هٰذَا الثَّوْبَ وَرَزَقَنِيهِ مِنْ غَيْرِ حَوْلٍ مِنِّي، وَلَا قُوَّةٍ)

## د مسجد اداب پېژندل

د الله پر ځمکه بهترينه برخه مساجد دي. مساجد ددين مراکز دي. مساجد اباد ول د مؤمنانو کار دی. مساجدو سره مينه کوئ. مساجدو ته د عبادت په موخه د زړه په مينه ورځئ. مساجدو کې د دنيا عبث خبرې مه کوئ. مسجد ته د ننوتلو په وخت کې ښي پښه مخکې کړئ او دا دعاء ولولئ. (اللَّهُمَّ افْتَحْ لِي أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ)مسجد کې کېناستلو څخه مخکې تحية المسجد کوئ. د مسجد په خلکو سلام وايئ. د مسجد د هر ډول خدماتو اهتمام کوئ. د مساجدو د مينې والا د عرش د سيوري لاندې وي. خپل هوښيار ماشومان له مسجد سره عادت کړئ. مسجد کې لوړ غږ يا

منډې وهل بې ادبي ده. له مسجد څخه د راوتلو په وخت کې چپه پښه مخکې کړئ او دا دعاء ولولئ. (اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ)

## د لمونځ اداب پېژندل

۱.لمونځ د الله ستر عبادت دی. ۲.په خپل وخت لمونځ کول الله ته ډېر محبوب عمل دی. ۳.لمونځ له الله سره خبرې دي. ۴.لمونځ لپاره ځان ښايسته کړئ. ۵.لمونځ لپاره په جماعت پابندي کوئ. ٦.د لمونځ په درشل کې د الله عظمت زړه ته راولئ. ۷.د لمانځه ارکان په اطمينان سره ادا کوئ. ۸.د جماعت ودرېدو څخه مخکې ځان حاضرکړئ. ۹.خشوع او عاجزۍ سره لمونځ ادا کړئ. ۱۰. په سستۍ او بې پرواهۍ سره تېزنګې وهل د منافقانو صفت دی.

## د تلاوت اداب پېژندل

۱.قرانکريم د الله عظيم کتاب دی. ۲.د تلاوت لپاره د طهارت اهتمام کوئ. ۳.په رحل يا بل لوړ ځيز باندې يې کېږدئ. ۴.د تلاوت په ابتداء کې اعوذ بالله او بسم الله لولئ. ۵.د تلاوت په دوران کې د قرانکريم عظمت او فضيلت ياد ساتئ. ٦.خوش اوازۍ سره تلاوت کوئ. ۷.په محبت، توجه او تدبر سره تلاوت کوئ. ۸.په تجويد سره

تلاوت کوئ، د جنت او دوزخ له اياتونو څخه اثر واخلئ.
۹.د تلاوت په وخت کې د ضروري خبرې لپاره تلاوت بند کړئ. ۱۰.د پرکالې او سترېا په وخت کې تلاوت قطع کړئ.

## اجتماعي او عمومي اداب پېژندل

۱.خپل منځ کې جګړه مه کوئ. ۲.بدعمله خلکو سره ملګرتيا مه کوئ. ۳.د هر چا د عزت مرتبه وپېژنئ. ۴.چغلي مه کوئ. ۵.غيبت مه کوئ. ٦.چا ته کنځل مه کوئ. ۷.د چا بې عزتي مه کوئ. ۸. تکبر مه کوئ.۹. حسد مه کوئ. ۱۰.په چا لعنت مه وايئ. ۱۱.بې ځايه بد ګماني مه کوئ. ۱۲.ساز او سرود او داسې نورو عبثياتو څخه ځان وساتئ. ۱۳.د شيطاني اعمالو څخه ځان وساتئ لکه سپي جنګول، چرګان جنګول، مرزان جنګول، کوتر بازي، کاغذ بازي او داسې نور...۱۴.ظلم مه کوئ. ۱۵.زمانې ته بد مه وايئ. ١٦.تبې ته بد مه وايئ. ۱۷.باد ته بد مه وايئ. ۱۸.هيڅ ډول نشه يي ښيز مه څښئ.

# ځينې اسلامي اعمال پېژندل

## لمونځ

لمونځ د اسلام له ارکانو څخه يو مهم رکن دی.
۱.لمونځ د الله تعالی د عبادت يوه خاصه طريقه ده.
۲.لمونځ په هر مکلف مسلمان فرض دی. ۳.شپه او ورځ کې پنځه وخته لمونځ فرض دی. (سهار، ماسپښين، مازيګر، ماښام، ماخستن) ۴.لمونځ د الله حکم دی. ۵.لمونځ لپاره اودس کول فرض دي.

## اودس

۱.د اودس په ابتداء کې بسم الله ووايې. ۲.لاسونه تر مروندونو پورې درې ځله ومينځئ. ۳.مضمضه، استنشاق او استنثار درې درې ځلې ۴.مسواک وهل. ۵.ټول مخ درې ځلې مينځل ٦.دواړه لاسونه د څنګلو سره درې ځله مينځل. ۷.د سر، غوږونو او څټ يو ځل مسح کول ۸. درې ځله خپلې پښې مينځل. ۹.د ګوتو يو ځل خلالول. ۱۰.جوړه جوړه اندامونه د ښي طرف څخه مينځل. ۱۱.په اخر کې دا دعاء لوستل (أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَـهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ)

# پنځه وخته لمونځ

۱.د سهار لمونځ (۴) رکعته دی. اول (۲) سنت بیا (۲) رکعته فرض دي.

۲. د ماسپښین لمونځ (۱۰) رکعته ددی، اول (۴) رکعته سنت، بیا (۴) رکعته فرض او بیا (۲) رکعته سنت.

۳.د مازیگر لمونځ (۴) رکعته فرض دی.

۴.د ماښام لمونځ (۵) رکعته دی، اول (۳) رکعته فرض بیا (۲) رکعته سنت دي.

۵.د ماخستن لمونځ (۹) رکعته دی، اول (۴) رکعته فرض بیا (۲) رکعته سنت بیا (۳) رکعته واجب دي.

# د لمونځ کولو طریقه

مثلاً د ماسپښین (۴) رکعته فرض لمونځ کولو طریقه:

۱.د زړه سره نیت کول. ۲.ثنا: (سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وتبارک اسمک وتعالی جدک ولا اله غیرک) ۳.تعوذ( أَعُوذُ بالله مِنَ الشَّيْطنِ الرَّجِيمِ) ۴.تسمیه : (: بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ) ۵.سورة فاتحه : (بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ (1) الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ (2) الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ (3) مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ (4) إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ (5) اهْدِنَا الصِّرَاطَ

FB: Ezatullah.sultanzai
0093706912702

الْمُسْتَقِيمَ (6) صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ (7) آمين )

٦.له فاتحې څخه وروسته بل سورة مثلاً: سورة اخلاص:( قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ (1) اللَّهُ الصَّمَدُ (2) لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ (3) وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ (4) چې دې ته ډک رکعت وايي. ٧.رکوع ته د انتقال تکبير : (الله اکبر) ٨.د رکوع تسبيحات: (سُبْحانَ رَبِّىَ الْعَظِيم) درې ځله يا له درېو څخه زيات ځله ٩.تسميع: (سَمِعَ الله لِمَنْ حَمِده) ١٠.تحميد: (رَبَّنا لَكَ الْحَمْدُ) ويل په قومه کې ١١.سجدې ته د انتقال تکبير: (الله اکبر) ١٢.د سجدې تسبيحات :( (سُبْحانَ رَبِّى الْأَعْلى) درې ځله يا له هغه څخه زيات ١٣.جلسه کول ١۴.سجدې ته د تللو تکبير (الله اکبر) ١۵.د لومړې سجدې په شان سجده بيا دويم رکعت ته پورته کېدل ١٦.دوهم رکعت د اول په شان دی البته ثناء او تعوذ په کې نشته. ١٧.دوهم رکعت تکميليدو څخه وروسته قعده يعنې مسنونه طريقې سره ناسته چې په هغې کې تشهد (أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ ، وَ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ) بيا دريم رکعت ته پورته شئ، دريم او څلورم رکعت کې به صرف فاتحه لولئ بل سورة بل ور سره نه لولئ چې دې دواړو رکعتونو ته تش

ركعتونه وايي، د څلورم ركعت په پای كې به كېنې چپ دې ته دوهمه قاعده وايي. د تشهد څخه وروسته درود: (اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ و عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ، اللَّهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ و عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ "

بيا دعاء: (اللَّهُمَّ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ) ولولئ، بيا ښي او چپ طرف ته سلام گرځولو سره يعنې (السَّلامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ وبركاته) ويلو سره لمونځ پای ته ورسوئ.

**د مازديگر او ماسختن لمونځونه:** دا دواړه لمونځونه هم د ماسپښين په شان دي، يعنې دوه لومړي ركعتونه يې ډک او دوه وروستي ركعتونه يې تش ادا کېږي.

د ماښام (۳) ركعتونو فرض ادا كولو طريقه: لومړی (۲) ركعتونه ډک او دريم تش اداء کړئ.

د وتر لمونځ هم د ماښام په شان دی مگر دويم ركعت کې يې فاتحې سره سورت او ورپسې تكبير ويلو سره او غوږونو ته د لاسونو پورته كولو وروسته دعاء قنوت لوستل دي.

دعاء قنوت: (اللهم انا نستعينک و نستغفرک و نؤمن بک و نتوکل علیک ونثنی علیک الخیر ونشکرک ولا نکفرک و نخلع و نترک من یفجرک اللهم ایاک نعبد ولک نصلی و نسجد والیک نسعی و نحفد و نرجوا رحمتک ونخشی عذابک ان عذابک بالکفار ملحق)

## روژه

روژه هم د اسلام له ارکانو څخه یو رکن دی.

د رمضان روژه په هر مکلف مسلمان باندې فرض ده.

روژه: د صبح صادق څخه تر لمر پرېوتو پورې د خوراک، څښاک او جماع څخه ځان ساتلو ته روژه وايي.

## زکوة

زکوة هم د اسلام له ارکانو څخه یو رکن دی.

زکوة د نصاب خاوند باندې فرض دی.

زکوة د مال څلویښتمه برخه د کال په تېرېدو سره فرض کېږي.

د زکوة په ورکولو مال کې برکت راځي.

## حج

حج هم د اسلام له ارکانو څخه یو رکن دی.

حج په هغه مکلف مسلمان فرض دی کوم چې د تګ راتګ توان لري.
حج : حج عبارت له هغه اعمالو څخه دی کوم چې د حج په خاصو ورځو کې په خاصو مقاماتو کې تر سره کیږي.
حج په عمر کې یو ځل فرض دی.

# اذکار

## د ذکر فضیلت

۱.الله فرمایي: (فَاذْكُرُونِي أَذْكُرْكُمْ) ژباړه: ما یاد کړئ زه به تاسو یاد کړم.
۲.د حدیث مفهوم دی: (مثال د هغه کس چې یادوي رب خپل او هغه کس چې نه یادوي رب خپل په شان د ژوندي او مړ دی).
د خوب نه وروسته دعا: (الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَحْيَانَا بَعْدَمَا أَمَاتَنَا وَإِلَيْهِ النُّشُورُ)
د جامو اغوستلو دعا: ((الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي كَسَانِي هَذَا الثَّوْبَ وَرَزَقَنِيهِ مِنْ غَيْرِ حَوْلٍ مِنِّي، وَلَا قُوَّةٍ)
نویو جامو اغوستونکي ته دعا: (تبلی و یخلف الله تعالی)
اودس ماتي څخه وروسته دعا : («غُفْرَانَكَ»)

د اودس ماتي شروع كولو دعا: (بسم الله)
د اودس څخه وروسته دعا: ((أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ))
له كور څخه د وتلو په وخت كې دعاء: (بِسْمِ اللهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللهِ، لَا حَوْلَ وَلا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ).
كور ته د ننوتلو په وخت كې دعا: اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَ الْمَوْلَجِ، وَخَيْرَ الْمَخْرَجِ، بِسْمِ اللَّهِ وَلَجْنَا، وَبِسْمِ اللَّهِ خَرَجْنَا، وَعَلَى اللَّهِ رَبِّنَا تَوَكَّلْنَا
مسجد ته د ننوتلو په وخت دعاء: (اللَّهُمَّ افْتَحْ لِي أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ)
د اذان جواب: مؤذن چې كوم الفاظ وايي هغه الفاظ ويل پكار دي خو كله چې مؤذن (حی على الصلوة - حی على الفلاح) ته ورسيږي، ځواب كې يې (لاحول ولاقوة الا بالله) ويل پكار دي.
د اذان نه وروسته دعا: (اللَّهُمَّ رَبَّ هَذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ، وَالصَّلَاةِ الْقَائِمَةِ , آتِ مُحَمَّدًا الْوَسِيلَةَ وَالْفَضِيلَةَ، وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَحْمُودًا الَّذِي وَعَدْتَهُ إِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِيعَادَ)
سَيِّدُ الِاسْتِغْفَارِ: اللَّهُمَّ أَنْتَ رَبِّي لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ، خَلَقْتَنِي وَأَنَا عَبْدُكَ، وَأَنَا عَلَى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ، أَبُوءُ لَكَ

بِنِعْمَتِكَ، وَأَبُوءُ لَكَ بِذَنْبِي، فَاغْفِرْ لِي، فَإِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ)

# سهار او ماښام دعاګانې

## د خوب په وخت کې دعاوې

سورة الاخلاص، الفلق، الناس د خوب نه مخکې ولولئ، په خپله لپه کې يې چف او په ټول بدن يې مسح کړئ، دا کار درې ځله تکرار کړئ، اية الكرسي ولولئ.

آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ مِنْ رَبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ كُلٌّ آمَنَ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِنْ رُسُلِهِ وَقَالُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ (285) لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَا إِنْ نَسِينَا أَوْ أَخْطَأْنَا رَبَّنَا وَلَا تَحْمِلْ عَلَيْنَا إِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهُ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِنَا رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهِ وَاعْفُ عَنَّا وَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا أَنْتَ مَوْلَانَا فَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ (286) هم ولولئ.

(۳۳) ځلې (سبحان الله)، (۳۳) ځلې (الحمد لله)، (۳۴) ځلې (الله اكبر) هم ولولئ.

(بأسمک اللهم اموت واحيا) او داسې نور اذكار ولولئ او بيا ويده شئ.

نبی صلی الله علیه وسلم ته خوښې كلمې (سبحان الله والحمدلله ولا اله الاالله والله اكبر)

الله پاک ته خوښې كلمې (سبحان الله وبحمده سبحان الله العظيم)

د مجلس د كفارې دعا: (سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ، وَحْدَكَ لَا شَرِيكَ لَكَ، أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ)

## ترغيبي كيسې

## د ماشومانو او تنكي ځوانانو ديني جذبه

## علمي فراست اوزړورتيا

عائشه په (٩) كلنی كې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته واده شوه. كله چې د (١٨) كالو شوه ، نو نبی علیه السلام وفات شو. په دومره كم عمر كې يې دومره ديني مسائل د نبی صلی الله علیه وسلم ارشادات او عملونه ور څخه نقل دی چې عقل ورته حيرانيږي. مسروق رح وايي ما لوی لوی صحابه وليدل چې له عائشې رض څخه يې د مسئلو پوښتنه كوله. ابوموسی رض فرمايي: زمونږ د علمي مشكلاتو تحقيق د حضرت عايشې سره پيدا كېده. (٢٢١٠) احاديث ورڅخه نقل شوي دي. په كم عمری كې داسې ناشنا كارونه كيدل د ماشومانو ددیني جذبې او خاص محبت ښكارندوی دی.

# د الله لپاره غيرت

# د انصارو دوه ماشومان

حضرت عبدالرحمن بن عوف رض فرمايي: زه په بدر کې د جنګ په کتار کې ولاړ وم چې ګورم ښي او کيڼ لورې ته مې د انصارو دوه کم عمره هلکان دي. زما زړه کې وګرځېده که زه د مضبوطو خلکو په منځ کې واى نو د ضرورت په وخت کې به مو يو له بل سره مدد کولاى. دا هلکان به زما څه مدد وکړي. په دې کې يو پوښتنه وکړه چې تره ته ابوجهل پېژنې؟ ما وويل هو! پېژنم ، ستا څه مطلب دى؟ ده وويل چې ما ته معلومه شوې ده چې هغه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په شان کې کنځل کوي. په هغه ذات مې دې قسم وي چې زما ساه د هغه په قبضه کې ده، چې زه هغهووينم تر هغه به ورڅخه جلا نشم تر څو يا هغه مړ شي يا زه مړ شم. زه ددې هلک په سوال حيران شوم. په دې کې بل هلک هم دا ډول پوښتنه وکړه او همدارنګه جذبه يې ښکاره کړه. اتفاقاً ابوجهل په اس سور ميدان کې په نظر راغى. ما دې دواړو ته وويل چې هغه دادى. بس اوريدو سره دواړه په منډه ورباندې حمله وکړه. دوى پياده او ابوجهل سپور وو. نو يو په اس او بل په

ابوجهل توري چلولې تردې چې هغه يې له اس سره په ځمکه راوغورځاوه. دومره واړه هلکان د يو لوی لښکر په وړاندې د هغوی په سر لښکر باندې حمله کول دا په قوي ايمان او ديني جذبې سره کيږي چې د مور او پلار د صحيح تربيت محصول دی.

## قران د ترقی او عزت کتاب دی

## د قرانکريم له کبله خپلو ملګرو څخه مخکې کيدل

په غزوه تبوک کې د بنو مالک بيرغ د حضرت عماره رض په لاس کې و. نبی ص عماره رض څخه واخيست او زيد ته يې ورکړ. عماره فکرمند شو چې له ما څخه به څه غلطي شوې وي، نبی عليه الصلاة والسلام څخه يې پوښتنه وکړه. نبی عليه الصلاة والسلام ورته وفرمايل داسې کومه خبره نشته خو زيد قران له تا څخه زيات زده کړی دی نو قران د بيرغ اوچتولو لپاره مخکې کړ، اګر که په دغه وخت کې زيد يو کم عمره نوجوان و. نبی عليه الصلاة والسلام په اکثرو حالاتو کې د قران حافظانو ته د قران د فضيلت په وجه په نورو ترجيح ورکوله.

## عمرو بن سلمه

عمرو بن سلمه رض چې د اسلام څخه مخکې د کفر په حالت کې يې قران زده کړی و ، کله چې مسلمان شو (۷يا ۸) کاله په عمر وو چې د قران د زده کړې په وجې د خپل قوم امام شو. د قران په وجه الله سبحانه وتعالى انسان ته عزت ورکوي.

## د الله په لاره کې د صدقې شوق او جذبه

يو ځل حضرت عائشې رض ته دوه بورۍ چې په هغه کې له يو لک څخه زيات درهمې وې، راوړل شول. عائشه رض تر ماښامه ټولې صدقه کړې. يو درهم يې هم پرېښنبود او خپله روژه وه. روژه ماتي لپاره وينځې يوه ډوډۍ او د زيتونو تيل راوړل او عرض يې وکړ چې څومره به ښه وای چې په يو درهم مو غوښه راغوښتې وای او نن مو پرې روژه ماته کړې وای، نو عايشې رض وفرمايل : هغه وخت به دې راته يادکړی وای نو ما به راغوښتې وای.

# د الله په لاره کې د شهادت شوق او جذبه

## کم عمره صحابی حضرت عمیربن ابی وقاص رض

د مشهور صحابی سعدبن ابی وقاص رضی الله عنه ورور دی.
سعدرض وايي چې ما خپل ورور عمير د بدر د جنگ په وخت
کې وليده چې پټ پټ گرځېده. په حيرانتيا مې پوښتنه ولې
پټ پټ گرځې؟ هغه وويل چې چېرته نبی عليه الصلاة والسلام
ما ونه ويني او ماشوم مې ونه گڼي، د تلو څخه به مې منع کړي.
چې بيا به نشم تلای او زه دا غواړم چې په جنگ کې ضرور
شريک شم . که الله ما ته شهادت هم نصيب کړي. کله چې
لښکر د معاينې لپاره نبی عليه الصلاة والسلام ته وړاندې شو.نو
چې کومه خطره وه هغه پېښه شوه. او نبی اکرم صلی الله عليه
وسلم يې دکم عمرۍ له وجې انکاروفرمايه . خو هغه د خپل
شوق او جذبې له کبله په ژړاشو. نبی اکرم صلی الله عليه وسلم
ته دشوق او ژړا حال معلوم شو. نو اجازه يې ورکړه. جنگ کې
شريک شو او شهادت يې هم نصيب شو. ما ددې د ورکوټوالي
او د تورې د لوی والي په وجه د تورې تسمو ته غوټې اچولې
وې تر څو له ځمکې نه اوچت شي.
گرانو ماشومانو: د صحابه و ماشومان او کمره ځوانان ددين په
هره شعبه کې د خپلو مشرانو په شان کارنامې لري. مونږ ته هم
پکار دي چې هغوی پسې اقتداء وکړو.

## نبوي احاديث

(۱) (اِنَّمَاالْاَعْمَالُ بِالنِّيَاتِ)- بخاري او مسلم

۱. بې شکه عملونه د نیتونو پورې تړلي دي.

(۲) ( حَقُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ خَمْسٌ: رَدُّالسَّلَامِ، وَعِيَادَةُ الْمَرِيضِ ، وَاِتِّبَاعُ الْجَنَائِزِ، وَاِجَابَةُ الدَّعْوَةِ ، وَتَشْمِيتُ الْعَاطِسِ) بخاري، مسلم او ترغيب

۲. د یو مسلمان پر بل مسلمان پینځه حقونه دي: د سلام ځواب، د ناروغ پوښتنه کول، د جنازې سره یې تلل، د بلنې قبلول او د پرنجي ځواب یې ورکول.

(۳) (لَايَرْحَمُ اللهُ مَنْ لَّايَرْحَمُ النَّاسَ) بخاري اومسلم

۳. رحم نه کوي، الله تعالی پر هغه چا، څوک چې پر خلکو رحم نه کوي.

(۴) (لَايَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَتَّاتٌ) بخاري اومسلم

٤. چغلخور جنت ته نه شي ننوتلی.

(۵) (لَايَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَاطِعٌ) بخاري اومسلم

۵. د خپلوۍ پرېکوونکی جنت ته نه شي ننوتلی.

(٦) (اَلظُّلْمُ ظُلُمَاتٌ يَّوْمَ الْقِيامَةِ)بخاري اومسلم

٦. ظلم به د قیامت په ورځ تیارې وي.

(٧) (مَاأَسْفَلَ مِـنَ الْكَعْبَـيْنِ مِـنَ الْاِزَارِ فَفِـیْ النَّارِ)بخـاري او مسلم

٧. د لنګ (پرتوګ) کومه برخه چې له ښنګرو نه لاندې وي، هغه اندازه پښه به د دوزخ په اور کې وي.

(٨) (اَلْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِّسَانِه وَيَدِه) بخاري او مسلم

٨. بشپړ مسلمان هغه دی، چې نور مسلمانان يې د ژبې او لاس له ضرر نه په امن کې وي.

(٩) (مَنْ يُّحْرَمُ الرِّفْقَ يحْرَمُ الْخَيرَ كُلَّه) بخاري او مسلم

٩. څوک چې له نرمۍ نه بې برخې شو، له ټول خير نه بې برخې کړای شو.

(١٠) (لَيسَ الشَّدِيدُ بِالصُّرْعَةِ اِنَّمَا الشَّدِيدُ الَّذِیْ يمْلِكُ نَفْسَهٗ عِنْدَ الْغَضَبِ) بخاري اومسلم

١٠. هغه کس پهلوان نه دی، چې خلک راپرزوي، بې شکه پهلوان هغه کس دی، چې د غوسې پرمهال خپل ځان کنترول کړي.

(١١) (اِذَا لَمْ تَسْتَحْيِ فَافْعَلْ مَاشِئْتَ) بخاري اومسلم

١١. کله چې حياء نه کوې، نو څه دې چې خوښ وي، ويې کړه.

(۱۲)(اَحَبُّ الْاَعْمَالِ اِلىَ اللهِ اَدْوَمُهَا وَاِنْ قَلَّ) بخاري او مسلم

۱۲. الله تعالی ته ګران او خوښ عملونه هغه دي، چې تل لپاره وي، که څه هم چې لږ وي.

(۱۳) (لَاتَدْخُلُ الْمَلَائِكَةُ بَيتًا فِيهِ كَلْبٌ اَوتَصَاوِيرٌ) بخاري او مسلم

۱۳. نه ننوځي د (رحمت) ملائک، هغه کور ته چې پکې سپي یا عکسونه وي.

(۱۴) (اِنَّ مِنْ اَحَبِّكُمْ اِلىَّ اَحْسَنُكُمْ اَخْلَاقًا) بخاري اومسلم

١٤. یقیناً په تاسې کې ګران ماته هغه څوک دی، چې اخلاق یې ښه وي.

(۱۵) (اَلدُّنْيا سِجْنُ الْمُؤْمِنِ وَجَنَّةُ الْكَافِرِ) بخاري اومسلم

۱۵. دنیا د مومن لپاره زندان او د کافر لپاره جنت دی.

(١٦) (لَايَحِلُّ لِمُسْلِمٍ اَنْ يَّهْجُرَ اَخَاهُ فَوْقَ ثَلَاثِ لَيالٍ)بخاري اومسلم

١٦. هيڅ مسلمان ته روا نه دي، چې له خپل مسلمان ورور سره له درې ورځو زياتې اړيکې پرې کړي.

(۱۷) (لَايُلْدَغُ الْمُؤْمِنُ مِنْ جُحْرٍ وَّاحِدٍ مَرَّتَينِ) بخاري اومسلم

۱۷. مومن له يو سوري نه دوه ځلې نه چيچل کېږي.

(۱۸) (اَلْغِنَىٰ غِنَى النَّفْسِ) بخاري اومسلم

۱۸. غوره شتمني د نفس شتمني ده.

(۱۹) (كُنْ فِي الدُّنيا كَأَنَّكَ غَرِيبٌ اَوْ عَابِرُ سَبِيلٍ) بخاري

۱۹. په دنيا کې داسې اوسه، ګوا چې مسافر يا لاروى يې.

(۲۰) (كَفيٰ بِالْمَرْءِ كَذِبًا اَنْ يُّحَدِّثَ بِكُلِّ مَاسَمِعَ) مسلم اومشكوة

۲۰. سړي ته همدومره دروغ بس دي، چې هره اورېدل شوې خبره کوي.

(۲۱) (عَمَّ الرَّجُلِ صِنْوُ اَبِيهِ) بخاري اومسلم

۲۱. تره د پلار په څېر دی.

(۲۲) (مَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللهُ يَوْمَ الْقِيامَةِ) بخاري او مسلم

۲۲. څوک چې پر مسلمان پرده واچوي، الله تعالی به د قيامت په ورځ پر دغه (شخص) پرده واچوي.

(۲۳) (قَدْ اَفْلَحَ مَنْ اَسْلَمَ ، وَرُزِقَ كَفَافًا ، وَقَنَّعَهُ اللهُ بِمَاآتَاهُ) مسلم

۲۳. بې شکه هغه څوک کامياب دی، چې اسلام يې راوړی، وپه پوره اندازه روزي ورکړل شوې ده او الله تعالی په خپله برخه قناعت ورکړی وي.

(۲۴) (اَشَدُّ النَّاسِ عَذَابًا يَوْمَ الْقِيامَةِ اَلْمُصَوِّرُونَ)بخاري اومسلم

۲٤. په خلکو کې تر ټولو سخت عذاب به د قيامت په ورځ تصوير جوړوونکي ته ورکول کېږي.

(۲۵) (اَلْمُسْلِمُ اَخُوالْمُسْلِمِ) بخاري اومسلم

۲۵. مسلمان؛ د مسلمان ورور دی.

(۲٦) (لَايُؤْمِنُ عَبْدٌ حَتّٰى يُحِبُّ لِاَخِيهِ مَايُحِبُّ لِنَفْسِه) بخاري اومسلم

۲٦. هيڅ بنده د بشپړ ايمان خاوند کېدلی نه شي، تر هغې چې د خپل ورور لپاره هغه څه خوښ نه کړي، څه چې د ځان لپاره خوښوي.

(۲۷) (لَايَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ لَّايأْمَنُ جَارُهٗ بَوَائِقَهٗ)مسلم

۲۷. هغه څوک جنت ته نه شي ننوتلی، چې ګاونډی يې له ضرر څخه په امن کې نه وي.

(۲۸) (اَنَا خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ لَانَبِيَّ بَعْدِیْ) بخاري اومسلم

۲۸. زه خاتم النبيين (وروستی پيغمبر) يم، له مانه وروسته بل نبي نشته.

(۲۹) (لَاتَقَاطَعُوا، وَلَاتَدَابَرُوا، وَلَاتَبَاغَضُوا، وَلَاتَحَاسَدُوا، وَكُونُوا عِبَادَاللهِ اِخْوَانًا) بخاري

۲۹. خپل منځي اړيکې مه پرېکوئ! يو بل ته شا مه اړوئ، بغض مه کوئ، کينه مه کوئ، د الله تعالی بنده ګانو! خپل منځ کې ورونه شئ.

(۳۰) (أَنَّ الإِسْلاَمَ يهْدِمُ مَاكَانَ قَبْلَهُ ، وَإِنَّ الْهِجْرَةَ تَهْدِمُ مَاكَانَ قَبْلَهَا ، وَإِنَّ الْحَجَّ يهْدِمُ مَاكَانَ قَبْلَهُ ) مسلم اومشکوة

۳۰. يقيناً اسلام نړوي هغه ګناهونه، چې له اسلام راوړلو مخکې ترسره شوي وي او هجرت نړوي، هغه ګناهونه چې له هجرت نه مخکې شوي وي او يقيناً حج نړوي، هغه ګناهونه چې له حج نه مخکې شوې وي.

(۳۱) (اَلْكَبَائِرُ: اَلاِشْرَاكُ بِاللهِ ، وَعُقُوقُ الْوَالِدَيْنِ، وَقَتْلُ النَّفْسِ ، وَشَهَادَةُ الزُّورِ) بخاري اومسلم

۳۱. ستر ګناهونه؛ له الله تعالی سره برخوال پيداکول، د مور او پلار نافرماني کول، په ناحقه د نفس وژل او د درواغو ګواهي ورکول.

(۳۲) مَنْ نَفَّسَ عَنْ مُؤْمِنٍ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ الدُّنْيَا، نَفَّسَ اللهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ، وَمَنْ يَسَّرَ عَلَى مُعْسِرٍ، يَسَّرَ اللهُ عَلَيْهِ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ، وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا، سَتَرَهُ اللهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ، وَاللهُ فِي عَوْنِ الْعَبْدِ مَا كَانَ الْعَبْدُ فِي عَوْنِ أَخِيهِ.
(مسلم او مشکوة)

۳۲. څوک چې له مومن نه د دنيا له سختيو څخه يوه سختي لرې کړي، الله تعالی به له هغه نه د قيامت د ورځې له سختيو څخه سختي لرې کړي، څوک چې له يو تنګلاسي سره اساني وکړي، الله تعالی به په دنيا او اخرت کې پر هغه اساني وکړي او څوک چې په مسلمان پرده واچوي، الله تعالی به په دنيا او اخرت کې پر هغه پرده واچوي او الله تعالی د خپل بنده په مرسته کې وي، تر هغې چې بنده د خپل مسلمان ورور په مرسته کې وي.

(۳۳) (كُلُّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ) مسلم

۳۳. هر بدعت ګمراهي ده.

(۳۴) (اَبْغَضُ الرِّجَالِ اِلَى اللهِ اَلْاَلَدُّالْخَصِمُ) بخاري اومسلم

۳۴. د الله تعالی پر وړاندې تر ټولو کرکجن او بدګڼل شوی کس هغه دی، چې سخت جګړه مار وي.

(۳۵) (اَلطُّهُورُ شَطْرُ الْاِيمَانِ) مسلم

۳۵. پاکوالی نيم ايمان دی.

(۳٦) (أَحَبُّ الْبِلَادِ اِلَى اللهِ مَسَاجِدُهَا) مسلم

۳٦. الله تعالی ته ډېر خوښ ځايونه جوماتونه دي.

(۳۷) (لَاتَتَّخِذُوا الْقُبُورَ مَسَاجِدَ) مسلم

۳۷. له قبرونو څخه جوماتونه مه جوړوئ.

(۳۸) (لَتُسَوُّنَّ صُفُوفَكُمْ، اَوْلَيُخَالِفَنَّ اللهُ بَينَ وُجُوهِكُمْ) مسلم

۳۹. په لمانځه کې خپل صفونه برابر کړئ او که نه الله تعالی به ستاسې په منځ کې اختلاف او ګډوډي پیداکړي.

(۴۰) (مَنْ صَلَّى عَلَيَّ وَاحِدَةً صَلَّى اللهُ عَلَيهِ عَشْرًا) مسلم

۴۰. څوک چې پر ما یو ځل درود ووايي، الله تعالی پرې لس رحمتونه نازلوي.

(۴۰) (اِنَّمَاالْاَعْمَالُ بِالْخَوَاتِيمِ) بخاري اومسلم

٤٠. يقيناً ټول عملونه تر وروستيو خاتمو پورې تړلي دي.

ښکلی ایماني ژوند مو په برخه شه.

[redacted]

| د ښکته کولو تړونی | کتابونو نوملړ | شمیره |
|---|---|---|
| https://bawar.net/download/index/1170 | غير مقلدينو اعتراضونه د هغوي جوابونه د احنافو دلايلو سره | 1 |
| https://bawar.net/download/index/1371 | مد لل لمونځ ( مولانا فيض احمد ملتانی) | 2 |
| https://bawar.net/download/index/1567 | دخالد بن وليد رضي الله عنه جهادي کارنامې | 3 |
| https://bawar.net/download/index/1592 | نبوي او سپيڅلي ويناوې | 4 |
| https://bawar.net/download/index/1652 | احقاق الحق څلور ټوک | 5 |
| https://bawar.net/download/index/1677 | زبدة التحقيق في الجهاد وتقليد | 6 |
| https://bawar.net/download/index/1685 | داسلام ستر اتل امام اعظم ابوحنيفه (رح) | 7 |
| https://bawar.net/download/index/1847 | تفسير معارف القران لس ټوکه | 8 |
| https://bawar.net/download/index/1587 | لس مشهوري ناروغۍ | 9 |
| https://bawar.net/download/index/1904 | د افغانستان تاريخ له راشده خلافته تر اسلامی امارته | 10 |
| https://bawar.net/download/index/1916 | د مذهب په جامه کي د استعمار مزدوران | 11 |
| https://bawar.net/download/index/1922 | علم النحو پښتو | 12 |
| https://bawar.net/download/index/1978 | دغير مقلدينو دامام بخاري سره اختلاف | 13 |
| https://bawar.net/download/index/1979 | داسلامي معلوماتو ذخيره پښتو | 14 |
| https://bawar.net/download/index/1980 | دامام اعظم ابوحنيفه رحمة الله عليه حيرت انګيز واقعات | 15 |
| https://bawar.net/download/index/2025 | صفوة التفاسير پښتو | 16 |
| https://bawar.net/download/index/2034 | احسن التعبير في المسئلة الجبر وتقدير | 17 |
| https://bawar.net/download/index/2035 | د همجنس بازي بربادی او دهغه علاج | 18 |
| https://bawar.net/download/index/2036 | تحقيقات حماسي | 19 |
| https://bawar.net/download/index/2037 | جوامع الکلم څلويښت احاديث مفتي محمد شفيع | 20 |
| https://bawar.net/download/index/2066 | المهند المفند عقايد اهل سنت والجماعت علماء ديوبند | 21 |
| https://bawar.net/download/index/2067 | انسان او شيطان(ناول) | 22 |
| https://bawar.net/download/index/2068 | اتلس ناولي قاتلين جنايي (ناول ) | 23 |
| https://bawar.net/download/index/2073 | تشريحات نابغه | 24 |
| https://bawar.net/download/index/2077 | جنتي ښځه | 25 |
| https://bawar.net/download/index/2078 | د جنت اغزنه لار | 26 |
| https://bawar.net/download/index/2084 | دپيغمبر لمونځ احنافو ته ډالۍ | 27 |
| https://bawar.net/download/index/2085 | تجليات فرديه پښتو | 28 |
| https://bawar.net/download/index/2086 | بدرالفتو | 29 |
| https://bawar.net/download/index/2087 | دقرباني مسايل احکام ، فضايل،او مسائل مدلل | 30 |
| https://bawar.net/download/index/2088 | دګونټنامو ماتې زولنې | 31 |
| https://bawar.net/download/index/2089 | فن الخطابه (دوينا فن) | 32 |
| https://bawar.net/download/index/2090 | نشر الطيب في ذكر النبي الحبيب | 33 |
| https://bawar.net/download/index/2091 | اصول حديث (شهيد شيخ الاسلام مولانا غلام حضرت الحنفی ) | 34 |
| https://bawar.net/download/index/2092 | تنبه الغافلين پښتو | 35 |
| https://bawar.net/download/index/2093 | وا مدني ياره نعتيه غورچاڼ | 36 |
| https://bawar.net/download/index/2095 | تفسير ايوبی حنفي | 37 |
| https://bawar.net/download/index/2096 | په يو کليمې سره د طلاقو واقع کيدل | 38 |
| https://bawar.net/download/index/2097 | ارشاد الطالبين دزادالطالبين شرح پښتو | 39 |
| https://bawar.net/download/index/2101 | البصاير پښتو | 40 |
| https://bawar.net/download/index/2103 | ۳۰۰ ذهني پوښتنې او ځوابونه | 41 |
| https://bawar.net/download/index/2104 | جامع الوظايف | 42 |
| https://bawar.net/download/index/2106 | داحنافو دلايل | 43 |
| https://bawar.net/download/index/2107 | د کليساه د پردو ترشاه پټ لاسونه | 44 |
| https://bawar.net/download/index/2108 | د دعوت فنون | 45 |


[redacted]


https://www.facebook.com/Ezatullah.sultanzai
WhatsApp: 0093706912702
https://T.me/Ezatullah_sultanzai










Designed By. Sanaullah Zawab

روغنیوال

0794004029 - 0787830302
0772994040
roghaniwal4@gmail.com